# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# ښکلے کم عقل بادشاه

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Lyn Doerksen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



سموئيل د اسرائيلو قاضی او رهنما بوډا شو. هغه خپل زامن په اسرائيل قاضيان مقرر کړی. چې د خدائ پاک خدمت د پاره د هغهٔ په ځائ کار وکړی. خو د سموئيل زامن بد کاره وو. هغوئ پيسو سره مينه کوله، او په غلطې طريقې سره به ئې خپل طاقت استعمالولو



او مال دولت يې حاصلول غوښتل.

د اسرائيل خلق د هغهٔ د زامنو ټوله بدی برداشت کوی. عدالتونه بې انصاف وو. چې کله به خلقو ته د مدد ضرورت وو نو هغوئ به د سموئيل زامنو له پيسې ورکولې.




3

څهٔ نه څهٔ کول خو پکار وو. يوه ورځ د اسرائيل مشران راجمع شول او سموئيل ته ئې د مدد د پاره ووئيل.



4


مشران ووئيل، مونږ له يو بادشاه راکړه چې زمونږ عدالت کوی. هغوئ نهٔ غوښتل چې د سموئيل بدعمله زامن د هغوئ عدالت وکړی. هغوئ د نورو قومونو په شان بادشاه غوښتلو.



5

سموئيل غصه شی. د اسرائيلو خو د مخکښې نه يو بادشاه وو. قادر مطلق خدائ، واحد او ابدی خدائ په اسرائيلو بادشاهی کوله. ډېره موده مخکښې ئې هغوئ د مصريانو غلامئ نه ازاد کړی وو، او په بحرقلزم کښې ئې هغوئ د پاره لاره جوړه کړې وه.

6



بيا هغهٔ اسرائيليانو له د هغوئ ښکلې زمکه ورکړه.


7

کله چې سموئيل دعا وکړه نو مالک خدائ وفرمائيل، خلق چې درته څهٔ هم وائی هغې ته غوږ ونيسه. تهٔ هغه څوک نهٔ يې چې رد کړے شوے يې، په حقيقت کښې دا زهٔ يم چې هغوئ د بادشاه په توګه رد کړے يم.




8


هغوئ د نورو معبودانو عبادت کړے دے، هغوئ ته غوږ کېږده، او يو بادشاه ورله ورکړه.
9


خدائ پاک سموئيل ته ووائی چې هغوئ له خبردارے ورکړی چې د هغوئ دنياوی بادشاه به د محصول په شکل کښې د هغوئ مال حال واخلی، خپل ځان د پاره ښهٔ پټی او باغوانه واخلی، د هغوئ زامن په په خپلو لښکرو کښې ساتی،
او د هغوئ زامنو له به حکم ورکوی چې د هغهٔ د پاره کار وکړی.
10



خلقو په هر حال کښې بادشاه غوښتلو.
د انګورو شاهی باغ
بهر يئ
11


خدائ پاک سموئيل ته يو ځوان سړے وښودلو چې ډېر ښکلے وو، شرمېدو به، او لوړ قد ئې وو. او د ټولو نه لوړ وو. د هغهٔ نوم ساول وو. چې کله سموئيل ساول ولېدو، نو مالک خدائ ووئيل، هم دے به زما په خلقو حکومت کوی.
12


پوره تابعدارئ سره، سموئيل ساول د اسرائيلو د بادشاه په طور مسح کړی. کله چې هغه ساول د اسرائيل خلقو له راولی نو هغوئ چغې کړی. بادشاه زنده باد.
13



ډېر زر ساول بادشاه وآزمائيلے شو. عمونيان، چا چې اسرائيل سره نفرت کولو، د اسرائيل په ښار يې قبضه کوله، او دهمکی ئې ورکوله چې د هر سړی ښئ سترګه به وباسی. څومره د ظلم نه ډکه منصوبه وه! د دهمکی خبر ساول بادشاه ته ورسی.
هغه خپل لښکر تيار کړی.
14

کله چې دواړه لښکرې
یو بل ته مخامخ شي نو
ساول عمونیان هلاک
کړی او ښار آزاد
کړی. ساول بادشاه دې
وئیلو سره خدائ پاک
له جلال ورکړی چې،
مالک خدائ اسرائیل له
هم په نن ورځ آزادی
ورکړې ده.



15

خدائ پاک ساول له په هغه ورځ لویه فتح ورکړی. خو
ساول همېشه د مالک خدائ لوئی نۀ بیانوی. یوه ورځ
فلستیانو سره د جنګ نه مخکښې، ساول خدائ پاک ته
قربانی پېش کړی.




16

هغۀ ته پته وه چې دا د سموئیل کار وو. هغۀ ته دا هم پته
وه چې خدائ پاک غوښتل چې هغه د سموئیل د پاره انتظار
وکړی او هغه قربانی پېش کړی.
خو ساول د خدائ پاک
نافرمانی وکړی.




17

کله چې سموئیل راغلو، نو هغۀ ساول ته ووئیل، تا کم
عقل توب وکړو. تا د خپل مالک خدائ پاک حکم ونۀ
منلو. اوس به ستا بادشاهی پاتې نۀ شی.



18

کېدے شي چې ساول دا سوچ کړے وی چې دا یوه
وړه شان ګناه ده. خو د خدائ پاک نافرمانی همېشه
یوه سنجیده مسئله ده.



19


په یو بله موقعه خدائ
پاک ساول له حکم
ورکړو چې هغه د
عمالیق بدعمله
خلق هلاک کړی.
خو ساول او د
هغۀ خلقو د
عمالیق بادشاه
اجاج ژوندے
پرېښودو.

هغوئ قیمتی څېزونه، ګډې
او غویان هم واخستل. ساول
ووئیل، هغۀ دا څېزونه د
مالک خدائ قربانی د پاره
اخستی دی.



20

سموئیل ساول ته ووائی چې تابعداری د قربانئ نه غوره ده.
تا د مالک خدائ حکم رد کړے دے، نو
خدائ پاک هم تهٔ په اسرائیلو د بادشاه
په طور رد کړے یې. ساول په خپله
ګناه ډېر پښېمانه وو. خو اوس ترې
نه وخت تلے وو. د هغهٔ باقی ژوند
دومره ښهٔ نهٔ وو ځکه چې هغهٔ
د مالک خدائ تابعداری
نهٔ وه کړې.



21

ښکلے کم عقل بادشاه

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

۱ سموئیل ۸ - ۱٦

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119

22

ختم شو

18 60

23

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

24